

**۲۰۲۴ فبروري**

IOM UN MIGRATION · UNAMA · UN WOMEN

# په ټول هېواد کې له مېرمنو سره د ترسره شویو سلا مشورو لنډ راپور

انځور: د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو دفتر/سید حبیب بیدل

## په افغانستان کې ډیجیټلي امنیت او بشري حقونه

دا راپور په ټول افغانستان کې د مېرمنو د اوسني وضعیت او لومړیتوبونو په هکله د دوی نظرونه وړاندې کوي. د ۲۰۲۱ زېږدیز کال له اګسټ میاشتې راپدېخوا طالبانو (واکمنو چارواکو) له ۵۰ زیات فرمانونه صادر کړي چې په مستقیمه توګه د ښځو حقونه او انساني کرامت[۱] تر پښو لاندې کوي. له دغو فرمانونو هیڅ یو یې هم بېرته مسترد شوی نه دی. په سیستماتیکه توګه د ښځو د حقونو، هوساینې او شخصیت څخه انکار هغه څه دي چې د افغانستان لپاره د طالبانو لیدلوری په ډاګه کوي.

د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو دفتر (UN Women)، د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) او د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (UNAMA) د ۲۰۲۲ زېږدیز کال د اګسټ راهیسې له بېلابېلو افغان مېرمنو سره په ربعوار ډول سلا مشورې کړې دي. د ملګرو ملتونو امنیت شورا د ښځو، سولې او امنتت اجنډا او د یوناما له ماموریت[۲] سره سم، د یادو سلا مشورو موخه دا وه، چې مېرمنې د تصمیم نیونې او په ځانګړې توګه د ځانګړي همغږي کوونکي د ۲۰۲۳ زېږدیز کال د خپلواکې ارزونې[۳] او ورپسې د امنیت شورا د ۲۰۲۳ کال د ۲۷۲۱ ګڼه پرېکړه لیک[۴] په ګډون، د پالیسي په مهمو برخو کې په مرکزیت کې واقع شي. په داسې یو وضعیت کې چې مېرمنې په سیستماتیکه توګه له ورځنیو چارو څخه ویستل شوې دي، دا سلا مشورې د مېرمنو لپاره یو له هغو فرصتونو څخه دی ترڅو د دوی نظرونه واورېدل شي او په رهبرۍ او اداره کې ونډه واخلي.

دا ځل یادې ربعوارې سلا مشورې د ۲۰۲۴ کال د جنورۍ له ۲۷ څخه تر فبرورۍ ۸ پورې ترسره شوې. د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو دفتر، د کډوالۍ نړیوال سازمان او یوناما په ګډه په انلاین او حضوري بڼه (په هغو ځایونو کې چې ترسره کول یې خوندي و) د افغانستان په **۳۴ ولایتونو** کې له **۷۴۵ افغان مېرمنو** سره ډله ایزې سلا مشورې او د ټیلیفون له لارې انفرادي سروې ګانې ترسره

۱ د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنرۍ دفتر (۲۰۲۳ .(OHCHR. په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعیت په اړه راپور. A/HRC/45/21.
۲ د یوناما ماموریت د ۲۰۲۲ کال د ۲۶۷۸ ګڼه پرېکړه لیک پر بنسټ تمدید شوی دی.
۳ ګرئ S/2023/856.
۴ د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو دفتر، یوناما او د کډوالۍ نړیوال سازمان د امنیت شورا له غونډو مخکې په ربعوار ډول په هېواد کې دننه له افغان مېرمنو سره سلا مشورې کوي. د تېرو سلا مشورو په راپورونو کې د ۲۰۲۳ کال ډسمبر، د ۲۰۲۳ کال سپټمبر، د ۲۰۲۳ کال اپریل، د ۲۰۲۳ کال جنوري او د ۲۰۲۲ کال اکتوبر شامل دي.

کړي دي. په دغو سلا مشورو کې مېرمنو د ۲۰۲۳ کال له اکتوبر څخه تر ډسمبر پورې موديې په هکله څرګندونې کړي او خپل لومړيتوبونه، د طالبانو په رسميت پېژندلو په ګډون د نړيوالې ټولنې سره د تعامل په اړه يې نظرونه ورکړي او د ښځو حقونو د تأمين لپاره يې وړانديزونه کړي دي. د سلا مشورو په ياده پروسه کې د داخلي بې ځايه شوو او له نورو سيمو راغلو د کورنيو سرپرستو مېرمنو؛ کليوالي، ښار ته څېرمه او ښاري مېرمنو؛ دنده لرونکو او بې دندو مېرمنو؛ او د عمر، مدني حالت، توکم او تحصيلي سويې له پلوه بيلابيلو مېرمنو سره سلا مشورې شوې دي.

## لنډيز

### کليدي موندنې:

- مېرمنو د **حاکم نظام د نړيوال رسميت پېژندنې امکان** په هکله پوښتنې په ځواب کې خپله ويره او اندېښنه څرګنده کړه. شاوخوا دوه پر دريمه برخه (۶۷ سلنه) ښځو وويل چې رسميت پېژندنه به د دوی پر ژوند د پام وړ اغېزې ولري. همدارنګه په اوسني وضعيت کې به دا چاره وکولای شي، د ښځو حقونو بحران لا زيات او د واکمنو چارواکو لخوا د ښځو او انجونو پر وړاندې د موجوده محدوديتونو د لا سختولو او زياتولو خطر نور هم ډېر کړي.

- مېرمنو وويل چې **نړيوال رسميت پېژندنه بايد يواځې پر مېرمنو او انجونو د ټولو محدوديتونو له لرې کېدو وروسته** (۳۲ سلنه) يا د ځينو ځانګړو بنديزونو له لرې کېدو وروسته (۲۵ سلنه) ترسره شي؛ خو ۲۸ سلنه مېرمنو وويل چې بايد په هيڅ حالت کې په رسميت ونه پېژندل شي.[۵] د ۲۰۲۳ کال په جولای مياشتې کې، د يوې ورته پوښتنې په ځواب کې ۹۶ سلنه مېرمنو ويلي وو، چې د طالبانو حکومت بايد يواځې د ښځو حقونو په برخه کې د ښه والي وروسته په رسميت وپېژندل شي او يا دا چې بايد هيڅ په رسميت ونه پېژندل شي.[٦]

- مېرمنو واضح کړې، چې د **حجاب فرمان[۷] د خپل سري او جدي تطبيق** راپورونو وروسته، په ځانګړې توګه په کابل کې، په عامه ځايونو کې د حجاب تطبيق د دوی د لا زياتې ځورونې لامل شوی او له کورونو بهر يې د دوی تګ خورا محدود کړی دی. دوی همدا راز ويلي چې له نېول کېدو او د پوليسو لخوا توقيف کېدو د دايمي پېغور او شرم څخه ويره لري.

- **له نيمايي زياتې** (۵۷ سلنه) مېرمنې له محرم پرته **له کوره وتلو سره ځان خوندي** نه احساسوي. په ځانګړې ډول، له کله نه چې د دوی پر وړاندې نوی فرمان اعلان شوی، د دوی امنيت ته خطرونه او همدارنګه د دوی انديښنې او تشويشونه هم زيات شوي دي.

- يواځې ۱ سلنه مېرمنو په ډاګه کړې چې دوی **د ټولنې په کچه په تصميم نيونه** کې "ښه" يا "بشپړ" تاثير درلود – چې د ۲۰۲۳ کال په جنورۍ مياشت کې د ۱۷ سلنې په پرتله د پام وړ کموالی ښيي. د مېرمنو لپاره د راغونډېدو او نظرونو او تجربو شريکولو، ټولنو جوړولو او د دوی اړوند مهمو مسايلو په هکله ګډ کار کولو لپاره د عامه زېربنا نشتون – د دې لپاره چې دوی د تصميم نيولو په پروسه کې ګډون وکړي او يا پرې اغېز ولري – هغه څه دي چې دوی يې په نېمه لار کې پرېښې دي.

- د مېرمنو په خبره **په کورنۍ تصميم نيونه باندې د دوی "ښه" يا "بشپړ" تاثير** د ۲۰۲۳ کال د جنورۍ په مياشت کې د ۹۰ سلنې په پرتله د ۲۰۲۴ کال په جنورۍ کې ۳۲ سلنې ته د پام وړ راټيټ شوی دی. د دوی په وينا د دوی د حقونو، تحصيلي امکاناتو او دندو نشتون په کور کې دننه د دغه تاثير کچه راکمه کړې ده.

- همدارنګه ښځو پر ماشومانو **د نسلونو په منځ کې** او د واکمنو چارواکو د بنديزونو له امله **جنسيتي اغېزې** او ورسره په ټولنيز چلند کې سنتي بدلونونه واضح کړي. داسې برېښي چې هلکان د خپلو مېندو او خويندو د ټولنيزې او سياسي تابعدارۍ باور

---

۵ يوازې نړيواله پېژندنه بايد يوازې وروسته له هغه ترسره شي چې په ښځو او انجونو ټول بنديزونه بېرته واخيستل شي (31 سلنه)؛ نړيواله پېژندنه بايد په هيڅ صورت نه وي (۲۸ سلنه)؛ نړيواله پېژندنه بايد د نجونو په منځنې زده کړو او د ښځو په کارموندنه باندې د بنديزونو د بېرته راګرځېدو وروسته واقع شي (14 سلنه)؛ نړيواله پېژندنه بايد وروسته له هغه رامنځته شي چې د نجونو د ثانوي زده کړو بنديز بېرته واخيستل شي (10 سلنه)؛ نړيواله پېژندنه بايد واقع شي که چېرې DFA د افغان مېرمنو او انجونو لپاره د وضعيت د ښه کولو ژمنه وکړي، مګر زه اړتيا نلرم چې لومړی کوم حقيقي بدلون وګورم (7 سلنه)؛ نړيواله پېژندنه بايد سمدلاسه ترسره شي حتی که د افغان مېرمنو او انجونو لپاره کوم بدلون يا ژمنې نه وي (4 سلنه).

٦ د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو دفتر، يوناما او د کډوالۍ نړيوال سازمان. ۲۰۲۳. په ټول هېواد کې له مېرمنو سره د ترسره شوو سلا مشورو لنډ راپور. ۲۰۲۳ سپټمبر.

۷ د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنرۍ دفتر ۲۰۲۴ .(OHCHR). "افغانستان: د لباس په اړه د طالبانو لخوا خپل سري نيونې او توقيف بايد ژر تر ژره پای ته ورسېږي، د ملګرو ملتونو متخصصانو په وينا. "س۲ فبروري. په ټول هېواد کې د دا ځل مشورو ترلاسه شوي ارقام ښيي چې د مېرمنو په فکر (۸۸ سلنه) د حجاب رعايتول او تطبيق "لږ څه" يا "ډېر" جدي دی.

مني، او دا چاره د دوی دا باور لا پیاوړې کوي چې مېرمنې باید په کور کې پاتې شي او یوائې د کور کارونه وکړي. د خپل راتلونکي په اړه د انجونو نظرونه دا وو چې د دوی ارزښت باید بدلون ومومي او راتلونکی احتمالي ژوند یې درک شي.

## سپارښتنې

- ښځو له نړیوالې ټولنې وغوښتل څو **تر هغې پورې طالبان په رسمیت ونه پېژني چې پر ښځو او انجونو باندې لګول شوي بندیزونه لرې نکړي.** ښځو ګواښ وکړ چې د ښځو د حقونو په برخه کې د طالبانو تېرو کړنو دا ښودله چې پر دوی د اوسني وضعیت د ښه والي لپاره هم باور نشي کېدای. دوی په دې نظر دي چې د ښځو حقونو په برخه کې له حقیقي پرمختګ پرته په رسمیت پېژندل به تر ټولو بده پېښه وي.


- ښځو د ملګرو ملتونو پر هغو غړو هېوادونو **زور خفګان** وښود، چې له واکمنو چارواکو سره د تعامل په هڅو کې **د ښځو د حقونو د یو بې ساري بحران پر شدت او جدیت** او همدارنګه د افغانستان لخوا تائید شوو معاهدو او تړونونو[8] پر بنسټ، له نړیوالو قوانینو څخه په سرغړونو باندې سترګې پټوي.

- ښځو دا هم ویلي چې د دوی د وضعیت د ښه والي لپاره تر ټولو غوره لاره دا ده، چې **نړیواله ټولنه خپلې مرستې د ښځو د وضعیت په ښه کېدو پورې مشروطې کړي**، او یا دا چې ښځو ته زمینه برابره کړي ترڅو له طالبانو سره مستقمې خبرې وکړي.[9]


۸ د افغانستان لخوا تائید شوو معاهدو او تړونونو د بشپړ نوملړ لپاره د ملګرو ملتونو د بشر حقونو عالي کمېشنرۍ د ملګرو ملتونو د تړونونو اداري ډېټابیس کې د افغانستان لپاره د تصویب حالت ته مراجعه وکړئ.

۹ ښځو داسې ځواب ورکړی: نړیوالې مرستې دې د ښځو وضعیت ښه والي پورې مشروطې شي (۵۲ سلنه)؛ طالبانو سره د مستقیمو خبرو اترو زمینه دې برابره شي (۴۲ سلنه) له مدني ټولنې سره دې مشوره وشي (۱۸ سلنه)؛ له طالبانو سره دې مستقیم بحث او عدالت غوښتنه وشي (۱۱ سلنه)؛ نورې/په دې اړه یې له څه ویلو ډډه کړې (۵ سلنه) او طالبان دې په رسمیت وپېژندل شي (۳ سلنه). ښځو کولای شول څو ځوابونه وټاکي.


آیا تاسو له کوره د یواځې وتلو پر مهال ځان **خوندي** احساسوئ؟





آیا ستاسو په سیمه کې **پر مېرمنو د حجاب مراعتولو د فرمان تطبیق** څومره **جدي** دی؟





د خوندیتوب په برخه کې ستاسو **سترې اندېښنې** کومې دي؟




د مېرمنو په باور **نړیوال رسمیت باید:**




د مېرمنو په باور **نړیواله ټولنه باید د لاندې لارو چارو په مرسته د مېرمنو په وضعیت کې ښه والی راولي:**




میرمني د اندیښنی، انزوا او ژور خفګان احساساتو د درلودلو راپور ورکوي




۱۰ د افغان مېرمنو د کلیدي لومړیتوبونو په اړه د DROPS لخوا د ۲۰۲۲ کال په اګسټ کې ترسره شوې جلا سروې څخه ترلاسه شوي معلومات په لاندې لینک کې د لاسرسي ور دي: https://www.bishnaw.com/ survey/15-sep-2022

**”مونږ مېرمنې ژوندۍ يو خو ژوند نشو کولای“**

## د حاکم نظام د فرمانونو تطبيق

د حجاب رعايتولو فرمان[11] اړوند وروستيو ناځاپي نيونو ته په پام سره، مېرمنو په پراخه کچه ټينګار کړی چې دوی د فرمانونو د خپل سري، ناځاپي او جدي تطبيق له کبله د خونديتوب احساس نه کوي. سره له دې چې زيات شمېر يې تل حجاب مراعتوي، خو د زور او ګواښ په کارولو سره يې د تطبيق طريقې د دوی په ورځنې ژوند او راتلونکو فرصتونو کې نا ډاډمنتيا لا زياته کړې ده. په داسې حال کې چې د فرمان د پلي کولو حدود توپير کوي او ډېر لوري لکه واکمن چارواکي، د کليو مشران او ديني عالمان او د کورنيو غړي په کې ونډه لري، مېرمنې د دې خطر کمولو او مخه نيوونکو لارو چارو خپلولو لکه له کوره بهر ته نه وتلو باندې لاس په کار شوې؛ چې يادو ستونزو د دوی پر رواني روغتيا دوه برابره اغېزه کړې ده.

زيات شمېر ښځو څرګنده کړې چې په سړکونو او د پلټنې ځايونو کې د ”زور له وېرې“ د واکمنو چارواکو او تر يوې کچې د سيمې اوسېدونکو لخوا په لفظي توګه ځورول کېږي[12]– چې په دې کار سره دوی د شرم او اندېښنې احساس کوي. يوې ګډونوالې ووېل چې د دوی له ځورونې فلم اخيستل کېږي او په انټرنټ کې خپرېږي، چې د دوی د ”بې عزتۍ او خجالت“ لامل کېږي. همدارنګه مېرمنې د پوليسو لخوا له نيول کېدو او د توقيف پر مهال له بې عزته کېدو څخه وېره لري.

ښځو څرګنده کړې چې د حجاب تطبيق يو پېچلی او بدلېدونکی ايکوسيستم دی چې واکمن چارواکي (په ځانګړې توګه د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت) د سيمې اوسېدونکي، مشران او ديني عالمان او د کورنيو غړي پکې ونډه لري. د کورنۍ نارينه غړي، د خپلو کورنيو د عزت ساتلو لپاره د ټولنيز فشار او همدارنګه د واکمنو چارواکو لخوا دوی ته د خپلو کورنيو د ښځينه غړو د چلند مسؤليت ټاکلو او ورسپارلو له امله په خپلو کورنيو کې د دا ډول حکمونو تطبيقوونکي ګرځېدلي دي.[13] له همدې کبله، سړي په دې توګه د واکمنو چارواکو لخوا په زور د ښځو ضد ارزښتونو منلو او پلي کولو ته اړ ايستل کېږي.

### ۱ چوکاټ: د حجاب فرمان د خپل سري تطبيق په اړه د يوناما مشورې

د حاکم نظام د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت د ۲۰۲۳ کال د ډسمبر په ۳۱ نېټه په کابل، په ځانګړې توګه د ښار په لوېديځو برخو کې چې شيعه/هزاره او تاجک وګړي[14] پکې ژوند کوي، د حجاب نه مراعتونو له امله يې د ځوانو مېرمنو او انجونو په نيولو لاس پورې کړ، مګر دا روښانه نه وه چې څومره انجونې او مېرمنې نيول شوې او څومره نه دي، خو اغېزې يې ډراماتيکې وې.

يوناما له يادو راپورونو وروسته په کابل کې له ۲۸ افغان مېرمنو سره سلا مشورې وکړې، چې يو شمېر ښځې د دې شاهدې دي چې د حاکم نظام امنيتي قواوو په عامه ځايونو کې مېرمنې او انجونې نيولې او د پوليسو مرکزونو ته يې له ځانه سره وړې دي، چې هلته يې له دوی غوښتنې ترڅو د کورنۍ نارينه غړی راوغواړي او دوی له ځانه سره بوځي. د کورنۍ نارينه غړی بايد جريمه ورکړي او په راتلونکې کې د دوی د بشپړ حجاب اغوستلو ضمانت وکړي او تضمين پاڼه لاسليک کړي.

---

۱۱ په زيات شمېر عربي او نورو اسلامي هېوادونو کې ”حجاب“ هغې پردې ته ويل کېږي چې د مېرمنې سر پټوي، خو په افغانستان کې داسې يو لباس ته ويل کېږي چې سر او ټول بدن په بشپړه توګه پټوي. په دې فرمان کې حجاب د بوقرې يا تور سنتي لباس يا شال دی چې نه ډېر نری وي او نه ډېر چسپ، غالباً هغه اوږد کميس يا څادر ته ويل کېږي چې له نقاب سره يو ځای اچول کېږي. واکمنو چارواکو څرګنده کړې چې د مېرمنو لپاره تر ټولو ښه حجاب له مطلقې اړتيا پرته له کوره نه وتل دي. د نورو معلوماتو لپاره د ک. کلارک او ايس. رحيمي. ۲۰۲۲. "مونږ هم تنفس ته اړتيا لرو":" په ټول افغانستان کې ښځې د طالبانو د حجاب په حکم کې حرکت کوي.“ د افغانستان د تحليلګرانو شبکه. وګورئ.

۱۲ د ۶۸ سلنه ځواب ورکوونکو د خونديتوب تر ټولو ستره اندېښنه ”د واکمنو چارواکو لخوا ځورول“ په ګوته شوې ده. ۲۶ سلنه ځواب ورکوونکو بيا ”د سيمې اوسېدونکو لخوا ځورول“ په ګوته کړې. ځواب ورکوونکو کولای شول له يو زيات ځوابونه وټاکي.

۱۳ د حجاب فرمان پر بنسټ، محرم د ښځې د حجاب رعايتولو مسؤل دی او د نه رعايتولو په صورت کې به مجازات کېږي.

۱۴ دا يې يواځې يوه نمونه ده چې له يو بل سره په ټکر کې ظلم او حاشيې ته ويستل څه ډول يو له بل سره يو ځای شوي دي. په توکميزو او مذهبي برخو کې د طالبانو د حکومت تر چتر لاندې توپيري چلند او زور زياتی په ښکاره ډول له جنسيت (جنډر) سره په ټکر کې دی.

دغو نیونو ښکاره ویرووونکې اغېزه درلوده، چې له امله یې د کابل ښار په واټونو کې د مېرمنو په شمېر کې د پام وړ کموالی راغی، آن تر دې چې ځینو کورنیو خپلو انجونو ته اجازه نه ورکوله ترڅو له خپلو کورونو بهر لاړې شي. په نورو حالاتو کې ځوانو مېرمنو د نیول کېدو او د دوی کورنۍ ته د شرم سبب ګرځېدو وېرې له امله له کورونو په نه راوتلو سره یاد فرمان په احتمالي توګه رعایت کړی دی. مېرمنو په ډاګه کړې چې د حجاب د فرمان په تطبیق کې زیاتوالی د ژور خفګان او تشویش د زیاتوالي لامل شوی دی.

ښځو همدا راز ویلي چې په دوامداره توګه د پولیسو لخوا درول کېږي او د تګ راتګ په اړه ترې پوښتنې کېږي، ټیلیفونونه او لاسي کڅوړې (بکسې) یې پلټل کېږي، او که چېرې په موبایل کې خبرې کوي نو درول کېږي، او غواړي پوه شي چې له چا سره خبرې کوو. یوې مېرمنې ویلي چې طالبانو ورته ویلي چې دوی هڅه کوي څو عامه ځایونه ګام په ګام د مېرمنو له شتون پاک کړي.

## امنیت

له نیمایي زیاتو (۵۷ سلنه) مېرمنو د مرکو په ترڅ کې ویلي چې له کوره د وتلو پر مهال ځانونه خوندي نه بولي. د محرم په شتون کې ښځې په ډراماتیکه توګه د ښه امنیت احساس کوي، خو بیا هم ۹ سلنه مېرمنې د محرم په شتون کې ځانونه خوندي نه احساسوي. د نوي فرمان په اعلان سره امنیتي خطرونه زیات شول او په سړکونو او د پلټنې په محلونو کې له طالبانو سره د ښځو د مخ کېدو پرته بله لاره نه وه. د ۲۰۲۳ کال په اوږدو کې د امنیت احساس او درک په دوامداره توګه راکم شو، حال دا چې د ۲۰۲۳ کال په نومبر کې د مېرمنو سره د سلا مشورو پر مهال، نږدې ۵۰ سلنه مېرمنو وویل چې فزیکي امنیت یې ”خراب“ یا هم ”ډېر خراب“ و.

د دغو مېرمنو له ډلې چې په”بشپړه توګه“ (۴۴ سلنه) یا ”لږ څه“ یې د محرم سره یوځای له کوره په وتلو کې ځانونه خوندي بلل، بیا هم ټینګار کړی چې په ورځنیو مسؤلیتونو (کور کارونو) او ټولنیزو فعالیتونو کې له دوی سره د یو بل شخص موجودیت او پر هغه تکیه درلودل پر دوی د خورا زیات فشار سبب شوي دي. ځینو مېرمنو څرګنده کړې چې د دوی محرمانو یوې هټۍ یا دوکان ته د ننوتلو پر مهال د وخت تېرولو او د ځینو اساسي او ضروري کارونو ترسره کولو سره تړلې لارې څخه منحرف کېدو له امله دوی رټلې دي، چې په دې سره له کوره بهر د دوی د خوښۍ او تفریح خورا کوچني فرصتونه هم له منځه ځي. همدارنګه ځینو مېرمنو ویلي چې د دوی د کورنۍ نارینه غړي هم ویرېدل او د کورنۍ ښځینه غړو سره تللو ته یې زړه نه ښه کوه څکه چې دا چاره د واکمنو چارواکو د ځورونې لامل ګرځېده (لومړی چوکاټ وګورئ).

مېرمنو په ګوته کړې چې د ټولنیز باور تر ټولو ټیټې کچې څخه ډول امنیتي اندېښنې زیاتې کړې دي. شاوخوا ټولو (۹۶ سلنه) مېرمنو ویلي چې د دوی د ګاونډیانو په ګډون ”زیات شمېر خلک د باور وړ نه دي“.[۱۵] دوی اندېښنه ښودلې چې هر څوک کېدای شي طالبانو ته معلومات او راپور ورکړي، چې د دوی په خبره په ټولنو کې د باور نشتون یوه داسې فضاء رامنځته کړې چې آن له خپلو ګاونډیانو سره د مرستې په کولو کې ځینې مېرمنې د خورا زیاتو خطرونو احساس کوي.

مېرمنو وویل چې جرم د خوندیتوب په برخه کې تر ټولو لویه اندېښنه وه او د سیمې اوسېدونکو لخوا د ځورونې سره یو شان دی (۲۴ سلنه). یو ګډونوال د توپیري چلند پالیسیو او جرم په دوه ګونو اغېزو باندې ټینګار کړی دی او ویلي یې دي، چې د سړک پر سر له لوټل کېدو وروسته پر دنده پولیس بیا هم له دې امله پړه بللې چې په عامه ځای کې ګرځي، چې دا د دې څرګندوی دي چې توپیري چلند او ځورونه هیڅ کله نشي کولای مېرمنې خوندي وساتي او د دوی رنځ دوا کړي.

### ۲ چوکاټ: په کندهار کې له افغان سړیو سره سلا مشورې

په کندهار کې سړو سره کوچنۍ ډله ایزې سلا مشورې په ټول هېواد کې له مېرمنو سره د ترسره شوو سلا مشورو پر مهال نږدې ټول څېړل شویو موضوعاتو کې د پام وړ متفاوته تجربه په ډاګه کوي. د خوندیتوب په برخه کې د دوی نظرونه او تجربې له مېرمنو سره د پام وړ توپیر لري. ټولو ۱۰ واړو کندهاري سړو ویلي چې په یواځې ځان له کوره په وتلو کې ځان ”بشپړ

۱۵ دې پوښتنې ته په ځواب کې چې (په عامه توګه به تاسو وویلای شئ چې زیات شمېر خلکو باندې باور کېدای شي یا دا چې تاسو باید له خلکو سره په چلند کې دېر احتیاط وکړئ؟)، ۹۶ سلنه مېرمنو ویلي چې ”باید ډېر احتیاط وشي“ او یواځې ۴ سلنه مېرمنو ویلي چې ”زیات شمېر خلک د باور وړ دي“.

خونديٍ" احساسوي[۱۶] او د خپل خونديتوب يواځينۍ اندېښې يې"د سيمې اوسېدونکو لخوا ځورونې" او" د جرم هدف ګرځېدل" په ګوته کړې دي.

ټولو ۱۰ واړو کندهاري سړو ويلي چې له کوره په يواځې وتلو کې ځان "بشپړ خونديٍ" احساسوي او د خپل خونديتوب يواځينۍ اندېښې يې"د سيمې اوسېدونکو لخوا ځورونې"او" د جرم هدف ګرځېدل" په ګوته کړې دي. د دې برعکس، په کندهار کې مېرمنې له کوره په يواځې وتلو کې ځانونه "بشپړ" خونديٍ نه احساسوي (۵۰ سلنه) يا "لږ څه ځان خونديٍ" احساسوي (۵۰ سلنه). هيڅ يو سړي د واکمنو چارواکو يا سيمې اوسېدونکو لخوا د ځورونې په برخه کې د اندېښنې خبره نه ده کړې.

کندهاري سړيو د استدلال په ډول ويلي؛ سره له دې چې ښځې ښايي د يوې"پټې ويرې" احساس کوي، خو طالبانو دوی ته هيڅ ګواښ پېښ کړی نه دی. دوی زياته کړې، چې واکمنو چارواکو په کورنۍ او ټولنه کې د مېرمنو له ځورونې او ناوړه ګټه اخيستنې څخه د خونديتوب لپاره تدابير زيات کړي او په ميراث کې د دوی حق تأمين کړی و. سړو په اساسي توګه درک کړې چې د ۲۰۲۱ کال د اګسټ دمخه جنګ جګړو وروسته، چې په لږ کې يې طالبانو په هغو ښځو باندې چې په عامه دندو يا د اسلامي جمهوريت په دولتي ادارو کې يې کار کاوه او پر دوی يې له زور زياتي ډک بريدونه کول، اوس په هېواد کې امنيت او خونديتوب شته.

د سړو رواني روغتيا د مېرمنو په پرتله توپير کوي، او ټولو ۱۰ واړو کندهاري سړو ويلي چې د دوی رواني روغتيا" ښه" ده او په تېرو دريو مياشتو کې په کې هيڅ بدلون ندی راغلی. په دې اړه چې مېرمنې "په ځينو خاصو موضوعاتو کې نفوذ او تاثير لري"، دوی ومنله چې د تصميم نيونې له پروسې څخه په بشپړه توګه د مېرمنو ويستل به د مېرمنو په ټولنيز ژوند او رواني حالت باندې منفي اغېزې وکړي.

## د ټولنې په کچه تصميم نيونه کې د ښځو ګډون

### "مونږ آن ترې دې چې د لباس اغوستلو د تصميم حق نلرو – نو څنګه کولای شو پر ټولنه تاثير ولرو"

مېرمنو منلې چې د حاکم نظام تر چتر لاندې د ټولنې چال چلند سخت او ستونزمن کېدونکی دی، چې د دوی پر ژوند مستقيمې او غير مستقيمې اغېزې پرېباسي. د ښځو پر ضد ټولنيز چلندونو د کورنۍ د نارينه غړو (لويانو او ماشومانو) پر وړاندې د دوی ارزښت او د دوی په اړه فکر په زياته کچه راټيټ کړی او اغېزمن کړی دی. ليدل کېږي چې خلکو د مېرمنو په ځورولو سره، د حاکم نظام تګلارې پلي کړې او په ورته وخت کې مېرمنې په ټولنه کې د تصميم نيونې په پروسه باندې تر ډېره هيڅ تاثير نلري. يواځې يو سلنه ښځو د دغه ډول تاثير درلودلو خبره کړې، چې د ۲۰۲۳ کال د جنورۍ مياشتې د ۱۷ سلنې په پرتله کموالی ښيي. مېرمنو د خپل غږ په نه اورېدو، په ځانګړې توګه په ادارو کې د دوی نشتون ته په پام سره، د دوی د شخصي مسايلو پر سر چې دوی بايد څه ډول لباس واغوندي، ژوره خواشيني ځرګنده کړې ده.

يواځې په څو ځايونو کې د دوی راټوليدلو ته اجازه شته، او آن تر دې چې د دوی د ليوالتيا او اړتياوو ځرګندولو لپاره يواځې د ګوتو په شمېر فرصتونه شتون لري. د ټولنې، ولايت او په ملي کچه په عامه غونډو او ناستو کې د مېرمنو د ګډون ټولې رسمي لارې بندې شوي دي. واکمن چارواکي د ښځو اندېښنو د ځوابولو لپاره کوم رسمي ميکانيزم نلري، حال دا چې د حاکم نظام په جوړښت کې د ښځو نه موجوديت د ښځو لپاره خدمتونو او معلوماتو ته لاسرسی ستونزمن کړی دی.

واکمنو چارواکو په ټوله مانا عامه ځايونو ته د مېرمنو لاسرسی او د غونډو جوړولو ازادي، د دوی د تګ راتګ په محدودولو او يواځې د ښځو لپاره ځانګړو شوو ځايونو (لکه مارکيټونو او د مسلکي روزنې مرکزونو) په موجوديت باندې د بنديزونو په لګولو سره، په بشپړه توګه منع کړې دي. په دله ايزه توګه د دوی راغونډيدل امنيتي خطر رامنځته کوي، او مېرمنو اندېښنه ښودلې چې ښايي د دوی د بحثونو او هويت په اړه واکمنو چارواکو ته خبر ورکړل شي، چې د دوی د ځورونې او نيونې لامل کېدای شي. افواهي راپورونه ښيي

۱۶ بايد يادونه وکړو چې دا يواځې د کندهار د اوسېدونکو يوه کوچنۍ ډله وه. د هېواد په نورو برخو کې له سړو يا نورو توکميزو ډلو سره ترسره شوي مرکې بيلابيل نظرونه ځرګندوي، او نور خلک د طالبانو لخوا مېرمنو او ځينو سړو (لکه هزاره ګانو) ته متوجه ګواښ مني.

چې واکمنو چارواکو په زیات شمېر کې داسې ښځې ګمارلې چې دوی ته خبر ورکوي. همدارنګه د مېرمنو د راغونډېدو لپاره د رسمي ځایونو نشتون هغه ستر لامل دی چې د دوی د رواني روغتیا موجوده ستونزه یې لا زیاته کړې ده.

مېرمنو واضح کړې چې د خپلو نظرونو شریکولو او پر خپل ژوند باندې د یو څه تاثیر ښکاره کولو لپاره په غیر رسمي ځایونو کې سره راټولېږي، چې په کې د ناروغانو پوښتنه کولو یا نورو ټولنیزو پروګرامونو لکه مذهبي مراسمو او ودونو پر مهال ځینې پېښې شیبې چې لا هم ښځې په کې د ګډون اجازه لري، شامل دي. ښځو د خونديي ځایونو د شتون پر اهمیت ټینګار کړی، ترڅو د راغونډېدو لپاره د دوی پر مخ د عامه ځایونو پرانیستلو بندیز لرې کولو او ننګونو څرګندولو ته په پام سره، له نورو مېرمنو سره هلته د زړه خواله وکړي.

په ورته وخت کې مېرمنو په ډاګه کړې چې د دوی لپاره د بدیلو ځایونو پرانیستل به وکولای شي د ټولنې تصمیم نیونې لپاره دوی ته زیات فرصتونه برابر کړي. همدارنګه دوی، یو داسې محیط ته په پام سره چې هلته د دوی د سیاسي ګډون بېرته احیاء کېدو لپاره د لنډې مودې ډېر کم احتمال وي، له نړیوالو همکارو شریکانو سره په سلا مشورو کې د دوی د ګډون پر مهم اهمیت باندې ټینګار کړی دی. د واکمنو چارواکو لخوا د موبایل ټیلیفونونو او ټولنیزو رسنیو څارلو په اړه د جدي اندېښنو سربېره، لا هم د دوی د نظرونو او تجربو شریکولو مهمې لارې چارې دي، چې د ټولنې له لارې د دوی مقاومت او پیاوړتیا زیاتوي او په اړوندو مهمو مسایلو کې فعال ګډون کوي.[۱۷]

په افغانستان کې امنیتي خطرونو ته په پام سره، ښځو څرګنده کړې چې له هېواده بهر د ښځو حقونو ډلو په نړیوالو تصمیم نیونو کې د دوی غږ څرګنه پورته کړی دی. دوی پوهېږي چې د خطر د یو هر اړخیز تحلیل وروسته په افغانستان کې د ښځو حقونو په اړه عامه پوهاوی او روزنیز پروګرامونه د مېرمنو، ټولنې او دیني عالمانو او حاکم نظام لپاره نړیوال ملاتړ د دې جوګه کېږي چې په ډېرو عامو ناستو او غونډو کې د مېرمنو د ګډون لپاره دروازه پرانیزي.

## په کور کې چلند (کړه وړه)

مېرمنو وویل چې په کورني محیطونو کې د دوی تاثیر او موقف په عامه ځایونو کې د دوی د موجودیت په کمېدو سره راکمېږي. همدارنګه د ۲۰۲۳ کال له جنورۍ راهیسې په کورنۍ کې د دوی د تاثیر دوامداره کمېدل د حېرانتیا خبره ده او خپلو مېرمنو ویلي چې د کورنۍ په اړه تصمیم نیونو کې د دوی "ښه" یا "بشپړ" تاثیر په ۱۲ میاشتو کې له ۹۰ سلنې څخه ۳۲ سلنې ته راټیټ شوی دی. د کورنۍ نارینه غړي د کورنۍ اړوند ټول عمده تصمیمونه په خپله نیسي، چې د دوی د تسلط لامل د حاکم نظام لخوا د کورنۍ د ښځینه غړو د چلند پر وړاندې نارینه مسؤل ټاکل دي.

همدارنګه مېرمنې دا خبره کوي چې د حاکم نظام لخوا د ښځو خلاف فرمانونو او له امله یې په ټولنیزو ارزښتونو کې د بدلونونو سربېره، د دوی په کاري او تعلیمي فرصتونو کې کموالی په کورنۍ کې د دوی د تاثیر له کمېدو سره مستقیمه اړیکه لري. د زده کړې او کار نشتون یو لړ منفي نظریات رامنځته کړي: له دغو مسایلو، مشروعیت او موقف پرته چې دوی ته په ټولو سطحو کې د تصمیم نیوونکو حق او درجه ورکوي، مېرمنې په ډېر کم احتمال سره په تصمیم نیولو کې تاثیر لري.[۱۸] د زیات عمر لرونکې ښځې کېدای شي یو څه تاثیر ولري خو ځوانې مېرمنې په دې برخه کې خورا ډېرې اغېزمنې شوې دي.

## په راتلونکو نسلونو باندې تاثیر

"د طالبانو له حاکمیت وروسته، زما ماشومان مېرمنو ته په ټیټه سترګه ګوري."

مېرمنو اندېښنه څرګنده کړې چې د حاکم نظام پالیسۍ او په ټولنیزو چلندونو کې محافظه کارانه بدلونونه په زیاته کچه عادي شوي او په ټولنه کې یې رېښه موندلې ده. دوی ګواښ کړی چې دا چاره به په رواني او ایډیالوژیکي توګه "د افغانانو راتلونکي نسلونه په فساد روږدي کړي". همدارنګه مېرمنو په ډاګه کړې چې د هلکانونو ارزښتونه او د دوی د ژوندانه او راتلونکي ظرفیت په اړه پوهاوی

۱۷ د ټولنیزو رسنیو او د افغان مېرمنو پر وړاندې خطرونو په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره، افغان شاهد. ۲۰۲۳ په دې لینک. د پردې تر شا تاوتریخوالی: د آنلاین ناوړه ګټه اخیستنې زیاتوالی د افغان میرمنو چوپتیا. وګورئ. همدارنګه یوناما او د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو دفتر. راتلونکي. انلاین خونديتو او ډیجیټلي امنیت: د بشر حقونو ساتونکو لپاره د کارن لارښود. وګورئ.

۱۸ ای.نجات او جی. مرتضاشویلي. په افغانستان کې د مېرمنو د رهبرۍ نقشونه. واشنګټن ډي سي: د امریکا متحده ایالاتو د سولې انستیتیوت. ایس. ویکپیلډ. ۲۰۰۴. جنډر او په ځایي کچه تصمیم نیونه: په مزار شریف کې د یوې موردي څېړنې موندنې.

او درک د دوی د میندو او پلرونو په پرتله د واکمنو چارواکو لخوا خورا ډېر اغېزمن کېږي.[19] په کورنۍ او د ژوند په نړدې ټولو برخو کې د تصمیم نیونې واک له هلکانو سره دی، چې دوی د خپلو مېندو، خویندو او نورو ښځینه وو لکه ښوونکو ټولنیزه اوسیاسي تابعداري رعایت کړې او نقل کړې ده.

ښځو اندېښنه ښودلې چې د حاکم نظام د ښځو ضد پالیسیو سره مخ کېدو د سړو او هلکانو ترمنځ دا باور رامنځته کړی چې ښځې او انجونې د ټولنیزو، سیاسي یا اقتصادي فرصتونو ظرفیت او اړتیا دواړه نه لري، چې دا چاره دا باور لا پیاوړی کوي چې ښځې او انجونې یوازې په کور کې پاتې شي او د کور کارونه وکړي. لیدل کېږي چې مېندې د پلرونو (۲۴ سلنه) په نسبت په خپلو بچیانو (هلکانو) باندې ډېر کم تاثیر (۶ سلنه) لري.[20]

دا باور چې هلکان د خپلو خویندو او میندو په پرتله ډېره ازادي او فرصتونه لري، په مخکنیو راټولو شوو  معلوماتو کې په ډاګه شو او داسې ښکاره کوي چې د کورنیو زیات شمېر هلکان د مېرمنو په پرتله کار کوي[21] او دا د فرصتونو جنسیتي ماهیت او همدارنګه د ماشومانو له حقونو څخه سرغړونه په ډاګه کوي. په داسې حال کې چې هلکان کېدای شي زیات تعلیمي، اقتصادي، ټولنیزو او سیاسي فرصتونه ولري، خو په اوسنیو اقتصادي شرایطو کې زیات شمېر یې ښایي دنده پیدا نکړای شي، چې په دې سره دوی خفه او ناهیلي کېږي.

انجونې د دوی په فکر د ټولنیزو چلندونو او د حاکم نظام فرمانونو له امله کمې اغېزمنې شوې دي څکه دوی له کوره بهر تاثیراتو سره په ډېره کمه اندازه مخ کېدې. مېرمنو ویلي چې ”د هلکانو په پرتله د انجونو د افکارو کنټرول آسان دی څکه انجونې د اصولو او قوانینو رعایتولو ته په زور اړ ایستل کېږي“. دوی له شپږم ټولګي پورته د انجونو په زده کړه د بندیز اغېزو او همدارنګه په ماشومتوب کې د انجونو ودولو زیاتوالي، یوازې دیني زده کړو ته پرېښودلو، او د اقتصادي پیاوړتیا او خپلو ماشومانو ته د کلیدي مهارتونو زده کولو او ارزښتونو لېږدولو پر وړاندې خنډونو په اړه اندېښنه درلوده. د انجونو او مېرمنو څنډې ته ویستل د دوی له حقونو څخه د انکار په مانا ده او“ د ټولنیزو ضربه اخیستونکو” په توګه د دوی رول محدودوي.[22]

انجونې د خپل راتلونکې لپاره یوازې یوه لاره ویني، چې هغه: بې زده کړې پاتې کېدل او واده کول دي. زیات شمېر انجونې خپل ځانونه ”بندي، کمزورې او د تصمیم نیونې واک نه لرونکې احساسوي“، چې دا د جمهوریت پر مهال د دوی ودې او پرمختګ سره په ښکاره توپیر کې ده او آن دا چې د افغانستان په ځینو سیمو کې د هلکانو په پرتله زیاتو انجونو په کانکور کې ګډون کړی وو.[23]

مېرمنو د بهرنیو زیانمنونکو تاثیراتو – لکه د ښځو ضد خپرېدونکی فکر – څخه د خپلو ماشومانو خوندي ساتلو ننګونو او د دوی د عقیدو له مخې خپلو ماشومانو ته د ارزښتونو ورښودلو ته اشاره کړې ده. د یو سخت مقتدرانه حاکمیت او د ټولنیز باور راکمېدونکي محیط کې د دغه ډول چارې په ترسره کولو سره دوی خپل ځان او خپل ماشومان د ”تخریبوونکو“ کړنو سره تړلو امنیتي ګواښونو سره مخ کوي. له دې مخکې مېندو او پلرونو د خپلې رواني روغتیا مدیریت کولو او همدارنګه د والدینو او سرپرستانو په توګه د خپلو دندو اړوند ننګونې واضح کړې دي.[24]

## بې ځایه کېدل او د ژوند کولو شرایط

مېرمنو ویلي چې د دوي د ټولنې غړو د پرمختګ عمده لاملونه د کار په موندلو کې ستونزې او اساسي خدمتونو ته خورا کم لاسرسی دی. همدارنګه دوی څرګنده کړې چې د دوی د ژوند کولو شرایطو کې ننګونې دوه برابره شوې دي لکه، د زده کړې نشتون، اساسي خدمتونه او ترانسپورت، بې کاري، پر ګرځېدو بندیزونه او اقتصادي ستونزې. په ورته وخت کې، یوې مېرمنې په ډاګه کړې چې د

۱۹ له هغو مېرمنو سره چې مرکه ورسره شوې، ۴۲ سلنه یې ویلي چې د هلک اړوندو ارزښتونو او د دوی د ژوند او راتلونکي ظرفیت په اړه پوهېدو باندې تر ټولو ستري اغېزې ”په مساوي توګه له مور او پلار دواړو“ څخه منځته راځي او ۴۱ سلنه ویلي چې ”د فرمانونو له لارې د واکمن چاروکو د نظرونو“ څخه منځته راځي. ۳۲ سلنه بیا دا عوامل ”د ټولنې د ارزښتونو“؛ ۳۲ سلنه ”د ښوونځي ارزښتونو/ښوونکو نظریاتو“؛ ۲۴ سلنه بیا ”د پلار نظریاتو“ او ۶ سلنه ”د مور نظریاتو“ له امله بللي دي.

۲۰ دا توپیر د ښځینه ماشومانو ترمنځ ډېر کم دی. دا رقم د پلار لپاره ۱۴ سلنه او د مور لپاره ۲۴ سلنه دی.

۲۱ په کورنیو کې په اوسط ډول په ۲۰۲۳ کال کې د ښځو په پرتله زیاتو هلکانو کار کوه. یوې اوسط کورنۍ ۶.۶ غړي درلودل چې ۱.۶ یې کار کوه او ۱.۱۹ یې نارینه وو. د نورو کار کوونکو کورنیو غړو کې (۰.۱۵) خوانې ښځې او ماشومان (۰.۲۳ هلکان او ۰.۰۳ انجونې) شاملې وې. د نورو معلوماتو لپاره، د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام. ۲۰۲۳. ټولنیز اقتصادي لرلید ۲۰۲۳ وګورئ.

۲۲ مېرمنې او انجونې تر ډېره ښایي په نا متوازنه توګه د اقتصادي ټکانونو له امله زیانمنې شي: له اجورې پرته د دوی د پالنې بوج زیاتېږي؛ په کورنۍ کې د دوی د خوړو اړینه کچه کمېږي؛ انجونې ښایي له ښوونځیو وویستل شي او واده شي؛ او د انجونو او مېرمنو پر وړندې کورنی تاوتریخوالي خطر زیاتېږي.  نه لیدل شوی میرمنې: په سویلي آسیا کې د اقلیم له امله د مهاجرت جندر تحلیل.

۲۳ په ۲۰۱۸ کال کې په هرات کې د انجونو ګډون ۵۱ سلنه و، په ۲۰۱۹ کې ۵۲ سلنه او په ۲۰۲۰ کې ۵۹ سلنه و. عمر. ۲۰۲۰. ”هرات په کانکور ازموینه کې د ریکارډ په کچه د ښځینه وو د ګډون شاهد وو.“ سلام ټایمز، د اګسټ ۱۲.

۲۴ وروستۍ څېړنې ښودلې چې د مېرمنو د رواني روغتیا کموالی د دوی د ماشومانو د شورماشور پر وړاندې د بې حوصلې کېدو او ژر غوسه کېدو او په قهر کېدو لامل شوې ده. GiHA Afghanistan. 2023. Afghanistan Rapid Gender Analysis.

دوی په کلي کې د روغتیایي خدمتونو او د ترانسپورت نشتون او کمزورې زیربناوې په دې مانا دي، چې زیات خلک روغتیایي درملنې ته لاسرسی نه لري. په ټولیزه توګه، ښځو دا خبره کړې چې د ۲۰۲۳ کال په اوږدو کې د ژوندانه شرایط د "پام وړ" (۶۶ سلنه) یا "لږ څه" (۲۵ سلنه) خراب شوي دي.

د دې مهمو شرایطو شتون یو موقعیت د مېرمنو د ژوند لپاره تر ټولو مناسب موقعیت ګرځوي، چې عبارت دي له: زده کړو ته خوندي لاسرسی، روغتیایي او نورو اساسي خدمتونه، اقتصادي فرصتونه او د ګرځېدو (تګ راتګ) ازادي.[23] مېرمنو د خپل ژوند د شرایطو د بدلون او ښه والي لپاره ځانګړي پروګرامونه او پالیسۍ جوړ کړي دي، چې د مېرمنو او انجونو لپاره د عامه ځایونو (ښوونځیو، عامه اماکنو او ورزشي کلبونو او نورو) پرانیستل، داخلي مسلکي روزنې (لکه تدریس، کالي ګنډل او مربا جوړول) برابرول، د پوهاوي لوړولو پروګرامونو (لکه د رواني روغتیا، تبعیض پر وړاندې مبارزه او د ښځو حقونه) جوړول، د اقتصادي فرصتونو پرانیستل (لکه د نغدو پیسو، انلاین کار او معیشت پروګرامونو له لارې) او د انلاین فرصتونو څخه د ګټنې لپاره د وړتیاوو لوړول (د لوړ کیفیت انټرنېټ، لپټاپونو او بریښنا شتون) په کې شامل دي.

## د طالبانو په رسمیت پېژندل

شاوخوا دوه پر درې برخو (۶۷ سلنه) مېرمنو وویل چې د طالبانو په رسمیت پېژندل به د دوی پر ژوند د پام وړ اغېزې ولري. د ښځو حقونو بحران او دا خطر به لا زیات کړي، چې واکمن چارواکي به شته بندیزونه لا ډېر او پراخ کړي. دوه دېرش (۳۲) سلنه مېرمنو څرګنده کړې چې رسمیت پېژندنه باید پر ښځو او انجونو لګول شوو ټولو بندیزونو له لرې کېدو او ۲۵ سلنه مېرمنو ویلي چې د ځینو بندیزونو له لرې کېدو وروسته ترسره شي - خو ۲۸ سلنه مېرمنو وویل چې باید په هیڅ حالت کې په رسمیت ونه پېژندل شي. په ورته وخت کې ځینو مېرمنو څرګنده کړې چې رسمیت پېژندنه د ښځو حقونو په برخه کې پرمختګ سره هیڅ تړاو نلري، بلکې د دوی پر انساني حق او د انسانانو په توګه د دوی پر کرامت باندې برید دی، او د اندېښنې په څرګندولو سره یې له نړیوالې ټولنې په کلکه وغوښتل ترڅو تر هغې پورې طالبان په رسمیت ونه پېژني، چې د دوی انساني حقونه په بشپړه توګه ورکړل شوي نه وي.

ښځو ګواښن وکړ، چې د دوی د مخکنیو کړنو تعقیب او څار ته په پام سره، پر طالبانو د مېرمنو او انجونو د وضعیت ښه والي په برخه کې د هیڅ کار کولو باور کېدای نشي. دوی وړاندیز وکړ که چېرې نړیواله ټولنه د نړیوال رسمیت پېژندنې له لارې د طالبانو حقیقت نه منونکې او غیر دیموکراتیک حاکمیت بیا ځلې ومني، افغان مېرمنې باید په نورو هېوادونو کې د مېشت کېدو پر لارو چارو غور وکړي.

## سپارښتنې

ښځو د ملګرو ملتونو پر هغو غړو هېوادونو ژور خفګان وښود، چې له واکمنو چارواکو سره د تعامل په هڅو کې د ښځو د حقونو د یو بې ساري بحران پر شدت او جدیت او همدارنګه د افغانستان لخوا تائید شوو معاهدو او تړونونو پر بنسټ، له نړیوالو قوانینو څخه په سرغړونو باندې سترګې پټوي. مېرمنې اوسني وضعیت د خپل راتلونکي په توګه نه مني او ټینګار کوي چې نړیواله ټولنه باید د دوی د اوسني وضعیت پر وړاندې مسؤله وبلل شي.

ښځو په کلکه خپله توقع بیان کړې چې نړیواله ټولنه به د دوی غږونه اوري او د افغانستان اړوند هر ډول تعامل کې به د ښځو حقونو ته لومړیتوب ورکوي. دوی همدا راز ویلي چې په دې پروسه کې د ښځو د اوسني وضعیت د ښه والي تر ټولو غوره لاره دا وه چې نړیوالې مرستې د دوی د وضعیت ښه والي پورې مشروطې شي. دوی په دوامداره توګه له نړیوالې ټولنې وغوښتل څو له طالبانو سره د دوی د مستقیمو خبرو اترو لپاره فرصتونه برابر کړي.[24]

۲۵ هغو مېرمنو چې مرکه ورسره شوې، له ډلې یې (۶۲ سلنه) مېرمنو زده کړو، روغتیا او نورو اساسي خدمتونو ته لاسرسی؛ (۴۴ سلنه) مېرمنو د تګ راتګ ازادي؛ (۴۰ سلنه) مېرمنو اقتصادي فرصتونه؛ (۱۹ سلنه) مېرمنو عامه ترانسپورت ته لاسرسی او د کارولو په برخه کې یې ازادي؛ (۹ سلنه) مېرمنو ټولنیز انسجام او د جګړو نشتون؛ (۷سلنه) مېرمنو د طبیعي پېښو (لکه سیلابونو، وچکالیو، زلزلو) خطر نشتون؛ او (۲ سلنه) مېرمنو یو پاک چاپېریال (د هوا ککړتیا نشتون، د کثافاتو مناسب مدیریت) ټاکلي دي. ځواب ورکوونکو کولای شول تر دریو پورې ځوابونه وټاکي.

۲۶ ښځو داسې ځواب ورکړی: نړیوالې مرستې دې د ښځو وضعیت ښه والي پورې مشروطې شي (۵۲ سلنه)؛ طالبانو سره د مستقیمو خبرو اترو زمینه دې برابره شي (۴۲ سلنه) له مدني ټولنې سره دې مشوره وشي (۱۸ سلنه)؛ له طالبانو سره دې مستقیم بحث او عدالت غوښتنه وشي (۱۱ سلنه)؛ نورې/په دې اړه یې له څه ویلو ډډه کړې (۵ سلنه) او طالبان دې په رسمیت وپېژندل شي (۳ سلنه). ښځو کولای شول څو ځوابونه وټاکي.

## افغان مېرمنې په ځانګړې توګه له نړیوالې ټولنې څخه په کلکه غوښتنه کوي ترڅو:

### د دوی د حقونو لپاره مبارزه او له واکمنو چارواکو سره تعامل

- د یو ټولګډونه او دیموکراتیک دولت لپاره غوښتنه وکړي چې جنسیتي، توکمیز او مذهبي تنوع په کې شامل وي.
- د طالبانو پر وړاندې سیاسي او اقتصادي بندیزونو ته دوام ورکړي، آن دا چې د سفر بندیز هم ورته معاف نه کړي.
- په نړیوالو پلاوو کې د ښځو د ګډون ډاډ رامنځته شي ترڅو په تصمیم نیونه کې د ښځو ځای ناستې وي.

### له افغان مېرمنو سره تعامل

- له افغان مېرمنو سره دوامداره لېدنې ولري ترڅو په ټولو هغو خبرو اترو او بحثونو کې چې د افغانستان د راتلونکي پکې څېړل کېږي، د دوی فعال ګډون او استازیتوب تضمین شي.
- د افغان مېرمنو ترمنځ د خبرو اترو یوه خوندي، منظمه او دوامداره فضاء جوړولو کې مرسته وکړي ترڅو په سیستماتیکه او منظمه توګه د دوی نظرونه واخیستل شي او په لوړه کچه تصمیم نیونه کې په پام کې ونیول شي.

### تمویلول او پروګرام جوړول

- د مېرمنو د ظرفیتونو، مهارتونو او اقتصادي فرصتونو لوړولو لپاره داخلي او د تقاضا پر بنسټ مسلکي زده کړو کې مرسته وکړي.
- داسې پروګرامونه جوړ او پراختیا ورکړي چې په خوندي توګه د مېرمنو تجربو، اړتیاوو او نظرونو اورېدلو کې مرسته وکړي لکه، سلا مشورې او په انلاین بڼه یا د ټیلیفون له لارې سروې ګانې ترسره کول.
- د ښځو د حقونو په برخه کې د عامه پوهاوي لوړولو پروګرامونو کې د کلیو مشرانو او دیني عالمانو سره ګډ کار وکړي.

## افغان مېرمنې په ځانګړې توګه له حاکم نظام څخه په کلکه غوښتنه کوي ترڅو:

- د مېرمنو او انجونو د حقونو په برخه کې ټول بندیزونه لرې کړي، لکه په زده کړه او کار بندیزونه او د مېرمنو او انجونو لپاره د عامه او خصوصي ځایونو ته ورتګ پرانیستل.
- د افغان وګړو د ژوندانه پر بڼه والي باندې لګښت کولو ته لومړیتوب ورکړي لکه، ټولنیزه هوساینه او مرستې، زیربناء او د اساسي خدمتونو وړاندې کول.
- افغان مېرمنې دې په ټولو سطحو کې په تصمیم نیوونکو مراجعو او پروسو کې شاملې شي.

UN Women Afghanistan Country Office
www.unwomen.org
www.iom.int
www.unama.unmissions.org